اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون

د دارالانشا عمومي ریاست

بشري سرچینې

د کارمندنې لارښود

*دا اطلاعیه له لوستلو وروسته لاسلیک او د غوښتنې فورم سره یو ځای یې تسلیم کړئ:*

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون هغو غوښتونکو ته چې د گمارنې ۳،۴،۵،٦ بستونو سیالۍ کې گډون کوي خبر ورکوي، چې لاندې موارد په جدي ډول په پام کې ونیسي:

۱) محترمو غوښتوونکو د غووښتنې معیاري فورم اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون له وېب پاڼې ( aic.gov.af ) او د اصلاحات اداري او ملکي خدمتونو له خپلواک کمېسیون تر لاسه کړئ، په پوره مسوولیت او دقیق ډول یې پرته له د قلم چټلۍ ډکه کړئ. د اعلان د پای نېټې څخه مخکې خپل سندونه د لوړو زده کړو وزارت لخوا تایید شویو سندونه، که رسمي دنده ولري د خلص سوانح د صادرېدو نېټې څخه یې شپږ میاشتې نه وي تېرې شوي، که خصوصي دنده ولري د قرار داد خط یې د اقتصاد ، اطلاعات او فرهنگ او ټولو دولتي ادارو پورې اړوندو ادارو تصدیق کړي وي اړوند دفتر ته تسلیم کړي.

2) هغه نوماندان چې خپل سندونه د برېښنالیک له لارې را استوي باید خپل ټول اصلي سندونه سکن او د یو (PDF) فایل په توگه چې حجم یې له (MB5) زیات نه وي را ولېږي.

3) هغه نوماندان چې خپل سندونه نه سکن کوي او د موبایل په وسیله یې عکسونه اخلي او هره صفحه بېله بېله د برېښنالیک له لارې را استوي کیفیت یې ډېر ټیټ وي، نو له همدې امله د منلو وړ نه ده.

4) که چېرته کوم غوښتوونکی د ملکي خدمتونو د بستونو د گمارنې په پروسه کې له واسطې او له نفوذ څخه استفاده وکړي د همغه بست د سیالۍ له پروسې څخه وېستل کېږي.

5) که چېرته په سندونو کې غلط او د واقعیت خلاف معلومات درج شوي وي، غوښتونکی له پروسې څخه وېستل کېږي

6) هغه غوښتونکې چې تحصلي سندونه او تصدیق کاپي یې د لوړو زده کړو وزارت تایید ولري د غوښتنې فورم سره یو ځای کړي. هېڅ ډول تصدیق، تحصیلي ستاینلیک د پوهنتونو او لوړو موسسو سرتفیکېټ چې د لوړو زده کړو وزارت تاییدي ونلري د اعتبار وړ نه دی.

7) هغه تحصیلي سندونه چې له ۱۳۷۱کال څخه تر ۱۳۸۱ کال پورې صادر شوي وي، د ۱۳۸۵\۲\۲۴ نېټې دلوړو زده کړو ۱۸۸گڼې مکتوب پر بنسټ ایجابوي چې په یاد وزارت کې بیا و ارزول شي.

8) له سرحد څخه بهر تحصیلي سندونه، د دال سندونو په لرلو او د لوړو زده کړو وزارت په ارزونې او تایید سر بېره د اکاډمیکو چارو د انسجام ریاست مکتوب هم اړین دی.

AIC

9) د لوړو زده کړو وزارت لخوا د سرحدونو څخه بهر موقت تایید شوي سندونه د اعتبار وړ دي، خو غوښتونکی مکلف دی چې خپل تحصیلي سندونه د مصاحبې تر پیلېدو مخکې د ذیصلاح مراجعو لخوا تصدیق وکړي.

10) څرنگه چې د لوړو  زده کړو خصوصي موسسو محترم ریاستونه یواځې د تحصیلي موسسو له ثبت او راجستر څخه تصدیق کوي، څکه نو ایجابوي چې هغه محترم غوښتونکې چې له خصوصي پوهنتونونو او موسسو څخه فارغ شوي؛ د لوړو زده کړو خصوصي موسسې څخه د سند کاپي د فراغت له مکتوب سره یو ځای د غوښتنې فورم سره ضمه کړي.

11)  هغه محترم غوښتونکي چې په دولتي ادارو کې په رسمي ډول دنده تر سره کوي یا یې مخکې تر سره کړي وي، یو قطعه د خلص سوانح نوې بڼه چې د اداري یا وزارت د واحدونو لخوا صادر شوی وي، د کار وروستي مرجع څخه د کاري تجربې سند په توگه د غوښتنې فورم سره یو ځای کړي. هېڅ ډول خلص سوانح چې د دوهم واحد او ولایت څخه صادر شوی وي د اعتبار وړ نه دی، مگر که د لومړي واحد یعنې وزارت یا اړوندې ادارې تایید ولري.

12)  هغه محترم غوښتونکي چې په معتبرو نړیوالو  موسسو کې یې دنده تر سره کړي وي. سندونه او کاري سوابق یې د همغې ادارې د بشري سرچینو د څانگې له تایید وروسته د قرارداد کاپي سره د غوښتنې فورم سر یو ځای کړي.

13) گرانو غوښتونکو د فورم د  تسلیمۍ په وخت کې پورته یاد شوي موارد په جدي ډول په پام کې ونیسئ، د سندونه کاپي باید روښانه وي تر څو ښه ولوستل شي، پرته له دې نیمگړي گڼل کېږي. د غوښتنې د فورم له تسلیمۍ وروسته هېڅ ډول اسناد نه منل کېږي

په شرایطو برابر کسان کولای شي خپل سندونه دغه( hr.aic1398@gmail.com ) برېښنالیک ته واستوي یا په مستقیم ډول یې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون د بشري سرچینو امریت ته قلعه فتح الله، شېرپور سړک، څلورم کور ته تسلیم کړي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره دغې (0749345760 ) شمېرې سره په اړیکه کې شئ.

نوټ: د غوښتنې فورم له دې ځای څخه ډانلوډ کړئ د یادولو وړ ده چې فورم پرته له چک لیست څخه نه اخیستل کېږي

د غوښتنې فورم.docx

چک لیست11